شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

شنبه| د صفرالمظفر ٦-١٤٤٦ل س/د زمري ٢٠-١٤٠٣ل ل/ د اګست ١٠-٢٠٢٤ز/خلورم کال / ١١٠ ګڼه/ ٤ مخیزه



**د حدیث شریف ژباړه:**

**نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي:** د خپل مسلمان ورور په تکلیف باندي مه خوشحالیږئ، پر هغه به الله تعالی رحم وکړي، له تکلیف څخه به ئي خلاص کړي؛ خو کېدای سي ته په همدغه شان تکلیف کښي راګیر سي.

[رواه الترمذي کتاب صفة القیامة باب ٥٤ شان الحدیث (٢٥٠٦)].

**ترجمه حدیث شریف**

**نبی کریم صلی الله علیه وسلم می فرماید:** برادر مسلمان تانرا در تکلیف دیده خرسند نباشید، الله متعال بر وی رحم نموده و از تکلیف رها خواد کرد، اما ممکن است خود شما بر چنین تکلیف مبتلا شوید.

[رواه الترمذي کتاب صفة القیامة باب ٥٤ شان الحدیث (٢٥٠٦)].

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سر مقاله

### کاهش مالیات و نقش آن بر رونق تجارت

در طول حکومت داری مالیه میتواند نقش نهایت با ارزشی در ثبات حکومت ها ایفا کند. زیرا منابع مالی لازم برای ارائه خدمات عامه، ایجاد برنامه های اجتماعی، ثبات اقتصادی سرمایه گذاری و زیرساختها را فراهم مینماید. کاهش نورم مالیاتی میتواند در روند جمع آوری مالیات شفافیت را نیز به بار بیاورد و مالیه دهنده گان مالیه تثبیت شده خویش را در زمان معیین آن به حکومت تادیه نماید. حکومت بدون ایجاد سیستم موثر و عادلانه هیچ گاهی قادر به پیشبرد امور کشور نبوده و برنامه های اقتصادی و توسعه ای آن لا اجراء بوده و در حفظ نظم و ثبات نمیتواند اقتدار خویش را حفظ نماید. از یک سو مالیات بلند و طاقت فرسا میتواند تجارت را با رکود رو به رو نماید و از سوی دیگر با فرار مالیاتی و همچنان فرار سرمایه از کشورها بی انجامد. کاهش در نورم مالیاتی میتواند بر رونق سکتور خصوصی مفید باشد ولی از سوی دیگر کاهش زیاد آن میتواند تاثیرات منفی نیز به بار آورد، چون مالیات برای پرداخت کننده مصرف و برای دریافت کننده آن یعنی دولت عاید کم به بار می آورد.

مالیات از منابع اصلی مصارفات دولت و نهایت مفید برای حکومتداری پنداشته میشود. وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در این اواخر معافیت های مالیاتی را به هدف رونق تجارت و رشد سکتور خصوصی اعلام نموده است؛ (در حالیکه هر گونه کمک های بین المللی قطع گردیده است) ولی از سوی دیگر کاهش مالیات می‌تواند به افزایش تولید و مصرف منجر شود. با کاهش هزینه های تولید شرکت‌ها ممکن است بیشتر تولید کنند و مصرف کنندگان نیز احتمالاً بیشتر خریداری کنند. این افزایش تقاضا و عرضه می‌تواند به افزایش تجارت داخلی و خارجی منجر شود.

از سوی دیگر کاهش مالیات می‌تواند رشد اقتصادی را تحریک کند. با افزایش تولید و مصرف، احتمالاً نرخ رشد اقتصادی نیز افزایش یابد. این افزایش رشد اقتصادی می‌تواند به تقویت تجارت داخلی و صادرات کمک کند. با کاهش هزینه‌های تجارت، شرکت‌ها احتمالاً بیشتر به سرمایه گذاری در تولید، فناوری، و گسترش کسب و کار خود علاقه مند شود.

این افزایش سرمایه گذاری می‌تواند به ایجاد شغل، افزایش تولید و تجارت کمک کند. قابل ذکر است که کاهش مالیات می‌تواند باعث افزایش رقابت در بازار شود. با کاهش هزینه‌ها، شرکت‌ها ممکن است قیمت های خود را کاهش دهند تا با رقبا رقابت کنند. این افزایش رقابت می‌تواند به بهبود کیفیت محصولات، افزایش انتخاب‌های مصرفی، و رشد تجارت کمک کند. کاهش مالیات می‌تواند تأثیرات بین‌المللی نیز داشته باشد. با کاهش هزینه های تولید، کالاها و خدمات کشور ممکن است برای صادرات جذاب تر شوند. از سوی دیگر، در پاسخ به این تغییرات، دیگر کشورها نیز ممکن است تغییراتی در خود اعمال کنند که می‌تواند تجارت بین المللی را تحت تأثیر قرار دهد.

با احترام

اداره

# د هوټلونو، تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو له پاره د انتفاعي او ثابتي مالیې په برخو کي د پام وړ تخفیفونه رامنځته سول




د مالیې وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم پر بنسټ د هوټلونو، رسټورانټونو، تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو له پاره د انتفاعي او ثابتي مالیې په برخو کي د پام وړ تخفیفونه رامنځته سول.

په همدې موخه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کي رسنیزه غونډه جوړه سوه، چي پکښې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین ملا عبدالقاهر حاجي ادریس، د هوټلونو، تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو استازو او یو شمېر امارتي مسئولینو ګډون کړی وو.

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین وویل، چي د اسلامي امارت تګلاره او پالیسي ولس ته په بېلابېلو برخو کي اسانتیاوي برابرول دي او د دوی په غوښتنه د دغه وزارت له کړنلارو سره سم تولي قانوني اسانتیاوي ورته چمتو کوي. هغه زیاته کړه، چي د همدې اسانتیاوو په دوام دا دئ، د مالیې وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) د حکم پر بنسټ د تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو د ثابتي مالیې او د رسټورانټونو د انتفاعي مالیې په برخو کي د پام وړ تخفیفونه رامنځته سول، چي پخوا به له هغو هوټلونو او سیارو رسټورانټونو څخه، چي ربعوار خرڅلاو به ئې د (٧٥٠٠٠٠) افغانیو څخه کم وو، (٢٪) انتفاعي مالیه اخیستل کېده او په هغه صورت کي، چي ربعوار خرڅلاو به ئې د (٧٥٠٠٠٠) افغانیو څخه زیات وو د (٥٪) مالیې تابع وو، چي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د نوي حکم پر بنسټ د ټولو هوټلونو له پاره (٢٪) انتفاعي مالیه وټاکل سوه.


همداراز به د تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو له في لیټر څخه (٠،٦٪) افغانۍ ثابته مالیه اخیستل کېده، چي د نوي حکم پر بنسټ، دغه کچه (٠،٣٪) افغانۍ ته راټیټه سوه.

ور پسې د ریاست الوزراء اداري مرستیال د افغانستان اسلامي امارت له لوري د خصوصي سکټور له پاره د بېلابېلو برخو (اصنافو، شرکتونو، ښوونیزو، تحصیلي او روغتیایي بنسټونو) ته په مالیاتي برخو کي د معافیتونو او تخفیفونو یادونه وکړه او دا ئې د ولس له پاره د اسانتیاوو او مهربانۍ څرګندي بېلګې یادي کړې. نوموړي ټینګار وکړ، چي مالیه ورکوونکي هم باید خپل مالیاتي مکلفیتونه پر ټاکلي وخت سره سرته ورسوي.

د هوټلونو په استازولۍ د افغانستان د کسبګرو او دوکاندارانو د خوني لوی رئیس حاجي شېرین آغا سخي او د تېلو او ګازو پمپ سټېشنونو په استازولۍ حاجي مسعود راحت خبري وکړې او په یادو برخو کي ئې د رامنځته سویو تخفیفونو د یو ځل بیا رامنځته کولو له امله د اسلامي امارت له مشرتابه او مالیې وزارت څخه مننه وکړه او ژمنه ئې وکړه، چي مالیه به پر ټاکلي وخت د امارت خزانې ته تسلیموي او له نظام سره به همکاري کوي.

دغه رسنیزه غونډه د خیر دعایې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## د اوبو رسوني او هم مسیره پروژو د پېژندني او پلي کولو په موخه د همغږۍ ناسته وسوه



د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ جوړه سوې غونډه کي، چي د کابل ښاروالۍ ساختماني مرستیال انجنیر عامر زمرک یاسر، د اوبو رسوني دولتي شرکت لوی رئیس او د مالیې وزارت یو شمېر رئیسانو هم ګډون درلود، د هم مسیره او اوبو رسوني پروژو د پېژندني او تطبیق په موخه خبري وسوې.

په دغه ناسته کي، د نورو رغنیزو پروژو ترڅنګ د اوبو رسوني شبکو د پېژندني او تطبیق، په دې برخه کي د تخنیکي ځانګړتیاوو د وړاندي کولو او د هم مسیره پروژو د هم مهاله پلي کولو په موخه د ښې همغږۍ پر رامنځته کولو خبري وسوې.

د کابل ښاروالۍ له لوري د نویو پروژو او په ځانګړي ډول د کابل له سرای شمالي څخه تر بادام باغ پوري د سړک رغوني پروژې سره په هم مهاله توګه د اوبو رسوني پروژې د پلي کولو په موخه د همکارۍ غوښتنه وسوه، چي د ښاري اوبو رسوني شرکت له لوري د پوره همکارۍ او چمتوالي ډاډ ورکړل سو.

همدا راز ټینګار وسو، چي د رغنیزو پروژو له تطبیق سره هم مهاله دي، د اوبو رسوني پروژې هم پلي سي؛ تر څو په دې برخه کي په انفرادي توګه د هم مسیره پروژو د پلي کېدلو، بیا ځلي اجراآتو، تخریب او اضافي لګښت څخه مخنیوی وسي.



له ۱۴ وزارتونو او امارتي ادارو سره د غیرمالیاتي عوایدو د تحلیل او ارزوني په تړاو ناسته وسوه

م ۲




د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي د هیواد ختیځو ولایتونو ته سفر وکړ

م ۲



د بلخ ولایت د سوداګرو ستونزي له نږدې واورېدل سوې

م ۲



د کندهار ولایت د ګمرک کارکوونکو ته روزنیز پروګرام پیل سو

م ۲



د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لیدلوری او طرحه

م ۳



د افغانستان مس عینک کان له پاره نوی څرک

م ٤

# له ۱۴ وزارتونو او امارتي ادارو سره د غيرمالياتي عوايدو د تحليل او ارزونې په تړاو ناسته وسوه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس حافظ مولوي شاه حسين حسيني په مشرۍ د (۱۴) وزارتونو او امارتي ادارو له استازو سره د غير مالياتي عوايدو د تحليل او ارزونې په تړاو ناسته وسوه.



په دغه ناسته کې د يادو وزارتونو او ادارو د غير مالياتي عوايدو د را ټولولو بهير په هر اړخيز ډول و ارزول سو او د يادو ادارو له پاره د غير مالياتي عوايدو په برخه کې د ټاکل سوي عوايدي هدف وضعيت ته کتنه وسوه.

همداراز هغو وزارتونو او ادارو، چې له ټاکل سوي عوايدي هدف څخه لوړ عوايد ترلاسه کړي دي، د هغوی ستاينه وسوه او خپلې گټورې تجربې ئې د ناستې له گډونوالو سره شريکې کړې.

په دغه ناسته کې د وزارتونو او ادارو له پاره د احتمالي کسر د مخنيوي په موخه لازمي سپارښتني وسوې او غوره عوايدي فرصتونه ورته په گوته سول؛ تر څو ټاکل سوي عوايدي هدف ته په ښه ډول ورسيږي.

# د کورنۍ پلټنې لوی رئيس او ورسره مل پلاوي د هيواد ختيځو ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئيس انجنير عبداللطيف خالد په مشرۍ يوه پلاوي د چارو د هر اړخيزې ارزونې په موخه د ننگرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولايتونو د مستوفيتونو او همدارنگه د ننگرهار او کونړ ولايتونو له گمرکونو څخه په جلا توگه ليدنه وکړه.

پلاوي د خپل سفر په ترڅ کې د پلټونکو له لوري د پخوانيو پلټنو په لړ کې د ورکړل سويو اصلاحي سپارښتنو د پلي کولو څرنگوالی تعقيب کړ، چې له نېکه مرغه يادو ادارو ډېری سپارښتني پلي کړي وې. د کورنۍ پلټنې لوی رئيس د ادارو له مسؤلينو وغوښتل، چې د پاتي سپارښتنو پلي کولو ته جدي پاملرنه وکړي او د پرمختگ راپور ئې د کورنۍ پلټنې له لوی رياست سره شريک کړي.

ورپسې د کورنۍ پلټنې لوی رئيس او ورسره مل پلاوي د يادو ادارو د هر آمريت او مديريت د چارو ارزونه وکړه او وروسته ئې د اړوندې ادارې د مسئول په شتون کې د آمرينو او مديرانو سره نيمگړتياوې شريکې کړې؛ تر څو ئې په اړه لازم اجراآت ترسره سي.

په پای کې د کورنۍ پلټنې لوی رئيس د يادو ادارو مسؤلينو هغه ستونزې او غوښتنې، چې بايد په مرکز کې ورته رسېدنه وسي واورېدې او ژمنه ئې وکړه، چې د وزارت له مشرتابه سره به ئې ډېر ژر شريکې کړي.




# د کندهار ولايت د گمرک کارکوونکو ته روزنيز پروگرام پيل سو

د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له لوري د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له روزنيز پلان سره سم د ساحوي روزنيزو پروگرامونو په لړ کې د کندهار محصولي گمرک کارکوونکو ته د گمرکي مسايلو د زده کړې او د کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په موخه د گمرکي قوانينو، گمرکي کړنلارو، گمرکي بيې ټاکنې، تعرفې او نورو اړوندو موارد په برخه کې روزنيز پروگرام پيل سو.




دغه پروگرام، چې يوه مياشت به دوام وکړي د ياد گمرک د کارکوونکو مسلکي او مديريتي اړتياوې به بشپړې او د دوی شته ستونزې به حل کړي.

د يادوني وړ ده، چې د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له لوري ورته روزنيز پروگرامونه په مرکز کابل او ولايتي ادارو کښې مخکې هم پلي سوي او له دې وروسته به هم پلي سي.

# د پکتيا گمرک له پاره نوی رئيس معرفي سو

د ماليې وزارت په وړانديز او د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء عالي مقام په منظورۍ مولوي عبدالغفار (احرار) چې د پکتيا گمرک د نوي رئيس په توگه ټاکل سوی وو، د گمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد له لوري د ياد گمرک کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.

په دې پېژند غونډه کې د گمرکونو لوی رياست د حمايت او پراختيا رئيس، د پکتيا گمرک آمرينو او کارکوونکو گډون کړی وو.

د گمرکونو لوی رئيس نوي ټاکل سوي رئيس ته د الله (ج) له درباره د ښه خدمت او په چارو کې د برياليتوب غوښتنه وکړه. نوموړي، د پکتيا گمرک کارکوونکو ته د اړوندو چارو د لا ښه والي په برخه کې اړين هدايات وکړل او دوی ته ئې سپارښتنه وکړه، چې له نوي رئيس سره بشپړه همکاري او همغږي وکړي.

د يادوني وړ ده، چې ښاغلی احرار په گمرکي چارو کې پوره کاري تجربه لري او تر دې وړاندې ئې د خوست ولايت د غلام خان گمرک د آمر په توگه دنده ترسره کوله.




# د بلخ ولايت د سوداگرو ستونزې له نږدې واورېدل سوې



بلخ ولايت ته د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي معاونيت او د گمرکونو لوی رياست تللي پلاوي، د بلخ گمرک د رئيس الحاج مولوي محمد عبدالله بلال په شتون کې د ياد ولايت د سوداگرو او پانگوني خوني له مسؤلينو او يو شمېر سوداگرو سره وکتل.

په دې کتنه کې د بلخ گمرک او د دې ولايت د سوداگرۍ او پانگوني خوني ترمنځ د همغږۍ په زياتوالي، د سوداگرو پر شته ستونزو او حل لارو بحث او خبري وسوې.

د بلخ ولايت د سوداگرۍ او پانگوني خوني استازو د سوداگرۍ پر وړاندې د شته ستونزو يادونه وکړه او له تللي پلاوي څخه ئې وغوښتل، چې په هيواد کې د سوداگرۍ د لا ودې په موخه د سوداگرو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د تللي پلاوي په استازيتوب د اقتصادي معاونيت د حقوقي چارو رئيس مولوي احسان الله خبري وکړې او د بلخ ولايت سوداگرو ته ئې ډاډ ورکړ، چې ژر به شته اصولو ته په کتو سره د دوی ستونزو ته رسېدنه وسي.

# د کندهار په گمرک کي د (۵۰۰۰) کيلو گرامه انساني طبي درملو له قاچاق څخه مخنيوی وسو



د کندهار گمرک کارکوونکو په يوې وارداتي سوداگريزه محموله کي، چې پرچون توکي پکښې بار ول د (۵۰۰۰) کيلو گرامه په اندازه انساني طبي درمل په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول، له قاچاق څخه مخنيوی وکړ.

همدا شان د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اونۍ د ننگرهار، نيمروز، کندهار او هرات ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې گڼ شمېر قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په دې نيول سويو توکو کې (۱۸۵۵) کيلو گرامه انساني طبي درمل، (۴۳۶۸) کيلو گرامه چاکليټ، (۸۵۰۵) کيلو گرامه روميان، (۴۷۳) کيلو گرامه غوړي، (۴۲۰) کيلو گرامه شيريني باب، (۲۲۰) کارټنه د قيلون ذايقه او (۱۰) کارټنه پروټين شامل دي.

د ماليې وزارت
د گمرکونو او عوايدو معينيت
د عوايدو لوی رياست

Afghanistan Revenue Department ARD

پر قراردادونو باندي موضوعي ماليه
لومړۍ برخه



د قراردادونو د موضوعي ماليې نورمونه

7٪ 1. په هغه صورت کې، چې جواز نه لرونکي اشخاص د اجناسو رسولو يا د خدمتونو برابرولو قرارداد د صنعتي، تجارتي او زراعتي سکتور پرته له نورو اشخاصو سره وکړي؛

2٪ 2. په هغه صورت کې، چې جواز لرونکي اشخاص د اجناسو رسولو يا د خدمتونو برابرولو قرارداد له نورو اشخاصو سره وکړي او يا د مالي کال په جريان کې له يوې واحدې منبع څخه په پرچون ډول له (500,000) افغانيو څخه زياته خريداري وکړي.

لومړی مثال کريم چې يو جواز نه لرونکی شخص دئ، د يوه ښوونځي د جوړولو قرارداد ئې له پوهنې وزارت سره په (500,000) افغانۍ کړی دئ، د نوموړي شخص موضوعي قراردادي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:

500,000x7%=35،000

دوهم مثال کبير، چې د ساختماني جواز لرونکی شخص دئ، له کابل ښاروالۍ سره ئې د يوه سړک د جوړولو قرارداد په (2,000,000) افغانۍ کړی دئ، د نوموړي شخص قراردادي موضوعي ماليه په لاندي ډول سنجول کيږي:

2,000,000x2%=40,000

تبصره په پورته مثالونو کې د پوهنې وزارت او کابل ښاروالي مکلف دي؛ چې د پيسو د حوالو د اجراء په وخت کې قراردادي موضوعي ماليه وضع او د راتلونکې مياشتې تر لسمې نېټې پورې ئې د امارت د عوايدو بانکي حساب ته تحويل کړي.

د ماليې پېژندنه 10

MofAfghanistan mof.gov.af

شتمنۍ SHTAMANI اوونیزه

# د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لیدلوري او طرحه

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس او د پوهنتون استاد

افغانستان پـه وچـه کـې راګيـر هيـواد دئ، د طبيعـي سرچينـو او اوبـو اغېزمـن مديريـت ئـې را ولاړو سـويو اقتصـادي سـتونزو تـه تـر ډېـره بريـده درمـل کېـدای سي. پـه دې اړونـد بـه ځينـي عينـي واقعيتونـه واضـح کـړو او هـم بـه پـه دې بحـث وکـړو، چـې څـه او کـوم کارونـه پـه کـوم ډول پـه کار دي؟

**حقيقي افغاني اقتصادي موډل جوړول:**

لـه بـده مرغـه دلتـه پـه تېـرو څـو لسـيزو کـې کارول کېدونکـي اقتصـادي موډلونـه داسي موډلونـه ول، چـې زمـوږ لـه مذهـب، ولـس، هيـواد او جغرافيـې سره ئـې هيـڅ راز اړخ نـه لـګاوه، ځکـه ئـې پايلـه هـم مطلوبـه او لـه توقـع سره سـمه نـه وه. للـه الحمـد پـه دې برخـه کـې اوس پـه تمامـه مانـا فرصـت لـرو، فلهـذا واقعـي افغانـي اقتصـادي مـوډل جـوړل او اغېزمـن تطبيـق ئـې پـه کار دئ.

**د افغانستان په اقتصادي جغرافيه پوهېدل:**

د افغانسـتان جغرافيـوي موقعيـت پېژنـدل پـه کار دي، ګاونـډي هيوادونـه پېژنـدل پـه کار دي، لـه ګاونډيـو هيوادونـو سره هـم سرحـده هيوادونـه پېژنـدل پـه کار دي او پـه لويـه کـې د نـړۍ پـه جغرافيـه پوهېـدل اړيـن دي. د اقتصـادي پاليسـيو جوړوونکـو او پـلي کوونکـو تـه د افغانسـتان د نقطـې، نقطـې پېژنـدل اړيـن دي.

**د افغانستان د سيمو په وېش پوهېدل:**

د افغانسـتان د سـيمو پـه وېـش پوهېـدل پـه کار دي، تولیـز وېـش او د ځمکـو سـلنه معلومـول اړينـه چـاره ده؛ مثـلاً: افغانسـتان (١٢٪) د کرکېـلي ځمکـه لـري (۴٦٪) ئـې غرونـه دي او پـه ترتيـب د صنعـت او نـورو برخـو اړونـد کامـلاً پوهـه پـه کار ده.

**د افغانستان په نفوسو پوهېدل:**

لـه بـده مرغـه مـوږ تـر اوسـه پـوري د دقيقـو ارقامـو لـه سـتونزې سره مـخ يـو، لـه يـوې ادارې سره هـم دقيـق ارقـام نسـته. ليدونـه متفـاوت دي. د نفوسـو پېژنـدل پـه کار دي. پـه دې تـړاو د کارګـري قـوې، سـپين ږيـرو، ځوانانـو او ماشـومانو دقيـق ارقـام اړيـن دي او پـه اقتصـادي برخـه کـې د دخيلـو افـرادو دقيقـه احصائيـه هـم اړينـه ده.



**ازاد بازار اقتصادي کلتور:**

ازاد بـازار مهـم دئ، مګـر د ازاد بـازار بڼـه بايـد خپلـه نـه کـړي، د ازاد بـازار لـه پـاره پيـاوړې څارنـه، امنيـت، د قانـون حاکميـت او زېربنـا اړينـه ده. لـه نېکـه مرغـه اوس تـر ډېـره د امنيـت، قـوي نظـام او نـوري اړينـي اسـانتياوي سـته، د نـړۍ پـه هيـڅ هيـواد کـې مطلـق ازاد بـازار نسـته پـه شـکل د اشـکالو نظامونـه مداخلـه کـوي، د نظـم او قيمتونـو د کنټـرول لـه پـاره د دولـت مداخلـه اړينـه ده.

**د اوبو مديريت:**

د اوبـو مديريـت د اقتصـادي ودې لـه پـاره نهايـت اړين دئ، د اوبـو سـالم مديريـت مـوږ پـه دې توانـوي، چـې (١٦٧) ميليونـه انسـانانو تـه تغذيـه ورکړو، د اوبو څخه سـمه استفاده د مـلي او فـردي اقتصـاد پـه تقويـت کـې مهـم رول لـري، انـرژي او بربښـنا، چـې د اوبـو پـه مديريـت سره مـوږ تـرې برخمن کېدلای سو، لوی چک ډېمونه او بندونه؛ لکه:

سروبي، د هلمنـد کجکـي، چـک بنـد، بخـش آبـاد او سـلما بندونـه زمـوږ د اقتصـاد حيـاتي برخـې دي. همـداراز لـوی سـيندونه او پرېمانـه خـوړې اوبـه زمـوږ بلـه لويـه نېکبختي او د رب تعالـی عظيمـه لورېينـه ده. د دې لـوی نعمـت مديريت د اقتصـادي پرمختيـا لـه پـاره اړيـن دئ؛ ځکـه فابريکـې، کارخونې او د صنعـت اړونـد ټـولي چـاري بربښـنا تـه جدي اړتيـا لـري، زمـوږ د صنعـت پـه برخـه کـې د نـورو خنډونـو ترڅنګ تر ټولو لويه ننګونه د بربښـنا نه شـتون دئ او دا تشـه د اوبـو پـه غـوره مديريـت بانـدې ډکـولای سـو. د قوشـتېپې کانـال تـه ورتـه پـروژې د اوبـو د مديريـت ښـکاره بېلګـې دي، چـې للـه الحمـد د افغانسـتان اسـلامي امـارت رهـبري دې برخـې تـه تـر بـل هـر وخـت ډېـره متوجـه سـوې ده.

**کرنه ميکانيزه کول:**

کـه څـه هـم د (٢١ مـې) پېـړۍ اقتصـادي وده د کـرنې پـه اسـاس د سـنجونې وړ نـه ده، دا چـې هيـواد مـو کرنيـز دئ؛ بنـاً ميکانيـزه کـول ئـې اړيـن دي.

**ټرانزيټ او حلقوي سړکونه:**

د ټرانزيـټ او حلقـوي سـړکونو بحـث نهايـت مهـم دئ. افغانسـتان يـو بهتريـن سـتراتيژيک موقعيـت لـري. جنـوبي اسـيا لـه مرکـزي اسـيا سره نښـلوي، لويـې لاري او هوايـې کرښـې پـه اقتصـادي برخـه کـې ځانګـړې ارزښـت لـري. د کندهـار سـپين بولـدک، غـلام خـان بنـدر، پکتيـا ډنډپټـان، حيرتـان بنـدر او تورخـم لويـې لاري نهايـت اړينـې دي، د دې لارو تجهيـز، ترميـم او پـه دې برخـه کـې شـته سـتونزو تـه بايـد جـدي پاملرنـه وسي. پـه دې برخـه کـې اسـانتياوي د سـوداګريزو مالونـو انتقـال اسـانه کـوي او سـوداګريز وضعيـت بهبـود پيـدا کـوي.

**ستري اقتصادي حوزې پېژندل:**

پـه کار ده، چـې سـتري اقتصـادي حـوزې وپېژنـو، پـه افغانسـتان کـې (٨) اقتصـادي حـوزې مهمـې دي او د نسـبي مزيـت پـه اسـاس دي جـوړې سي؛ لکـه: (شـمال، شـمال شرق، مرکـزي زون، شرق، جنـوب، جنـوب شرق، غـرب او جنـوب غـرب) هغـه اقتصـادي حـوزې دي، چـې پـه اقتصـادي وده کـې بهتريـن رول لوبـولای سي.

**د وارداتي اقلامو پېژندل او ژر ئې بديل پيدا کول:**

مـوږ پـه افغانسـتان کـې شـېږ کټګـورۍ وارداتي اقـلام لـرو، چـې (۴٠) قلمـه کېـږي او بېړنـی کار بايـد وربانـدي وسي؛ ځکـه پـه ميليارډونـو پانګـه لـه همـدې ادرسـه لـه هيـواده وځـي، چـې عبـارت دي لـه غـذا، ليـلام، درمـل، قرطاسـيه، البسـه، نفتـي مـواد، تعمیـراتي او غذايـي مـواد.

**مالي او بانکي سيستم اصلاح کول:**

مـالي بنسـټونه د اقتصـادي ودې لـه پـاره شـاهرګونه دي، بانکـوالي د مـالي جريـان، پانګـې د تشـکيل او پانګـونې لـه پـاره مهـم بنسـټونه دي. دا چـې دلتـه ډېـری خلـک د بېلابېلـو علتونـو پـه اسـاس زړه نـه ښـه کـوي، چـې پـه بانکونـو کـې نغـدي پيسـې وسـاتي، ځينـې ئـې پـه کورونـو کـې او ځينـې ئـې پـه صرافيـو کـې په راکده بڼه سـاتي.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در داوطلبی (پروژه تهيه و تدارک فرنيچر رياست عمومی عوايد، وزارت ماليه) دارای نمبر تشخيصيه (MOF/1403/NC-B/G-063) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء ميگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشايی: تاريخ 28/ اسد/1403 ساعت 11:00 قبل از ظهر ميباشد.

تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ 7/ سنبله /1403 ساعت 10:00 قبل از ظهر ميباشد.

تضمين آفر: به مبلغ ( 35,000 ) سی و پنج هزار افغانی ميباشد.

آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، آمريت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: 0202924156

## دعوت به داوطلبی

وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در داوطلبی پروژهء (تهيه و تدارک UPS و بطری و نصب آن) دارای نمبر تشخيصيه MOF/1403/NCB/G-064 که به روش داوطلبی باز صورت ميگيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء ميگردد بدست آرند.

جلسه قبل از داوطلبی بتاريخ: 29/اسد/1403 ساعت 2:00 بعد از ظهر ميباشد.

تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ 10/ سنبله/1403 ساعت 10:00 قبل از ظهر ميباشد.

تضمين آفر: به مبلغ 430,000 (چهارصدو سی هزار) افغانی ميباشد.

آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، مشاوريت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: 0202924046

آفرهای دير رسيده و انترنتی پذيرفته نميشود.

## د داوطلبی خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ماليې وزارت د ګمرکونو د امنيتي کمرو د فعالولو او نصب) په پروژه کې، چې تشخيصيه نمبر ئې (Rebid-٠٤١-NCB/G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لارې د شرطپاڼې له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.

د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: د (اسد/ ٢٥ مه١۴٠٣) د سهار ١١:٠٠ بجې.

د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (سنبله/ ٦ /١۴٠٣) د سهار ١٠:٠٠ بجې.

د آفر تضمين: يو ميليون او څلور سوه زره (١۴٠٠٠٠٠) افغانۍ.

په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## اعلان داوطلبی اعمار یک باب مسجد شريف، وضو خانه و تشناب ها برای ٣٠٠ نفر در اکادمی ملی عوايد و گمرکات!

وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت مينمايد تادر داوطلبی پروژه اعمار يک باب مسجد شريف وضو خانه و تشناب ها برای 300 نفر در اکادمی ملی عوايد و گمرکات دارای نمبر تشخيصيه MOF/1403/ NCB/W-067 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت ميگيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء ميگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشايی: تاريخ 29/ اسد/1403 ساعت 3:00 بعد از ظهر ميباشد.

تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ 8/ سنبله /1403 ساعت 10:00 قبل از ظهر ميباشد.

تضمين آفر: به مبلغ 210,000 (دو صدو ده هزار) افغانی ميباشد.

آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، آمريت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: 0202924156

## اعلان مزايده يک باب دوکان نمبر ١٢٦ مربوط ظاهر شاهی مارکيت

رياست عمومی املاک دولتی وزارت ماليه يکباب دوکان نمبر 126 بمساحت 5.51 مترمربع واقع مندوی ظاهر شاهی مارکيت مربوط ناحيه اول را به کرايه ابتدائی ماهانه مبلغ (26000) افغانی به شکل آفر سربسته به اعلان مزايده می سپارد.

کوردينات (جی.پی.اس نمبر) 34.5171 69.17756

اشخاص حقيقی و حکمی که خواهان به کرايه گرفتن جايداد متذکره را بالاتر از مبلغ فوق داشته باشند ميتوانند در خواست های شان را بعد از تاريخ ١٦/ اسد/ ١۴٠٣ الی ٢٩/ اسد /١۴٠٣ به رياست عمومی املاک دولتی تسليم نموده شرطنامه را اخذ نمايند.

آدرس: سينما پامير تعمير 14منزله، منزل5، مديريت عمومی ارزيابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس (٠٢٠٢٩٢۴٦٠٧-٠٢٠٢٩٢۴٦٢۴)

تاريخ مجلس داوطلبی: ٣٠/ اسد/ ١۴٠٣ به ساعت (9:00) قبل از ظهر.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# MoF Proposal: "Substantial Discounts Given in Arenas of 'Profit, Fixed Taxes' for Hotels, Oil & Gas Stations" After Supreme Leader Orders Discount by 2%, 0.3%

Based on the proposal of MoF and new order of Amir-Almomineen (may Allah almighty protect him), significant discounts were given in the arenas of 'profit and fixed taxes' for hotels, restaurants, and fuel and gas stations. For this purpose, a press conference was held at GMIC (Govt. Information & Media Center), in which the Deputy PM for Administrative Affairs, Maulawi Abdul Salam Hanafi; Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Mullah Abdul Qahir Haji Idris; the representatives of hotels and oil & gas stations, and some government officials attended. Previously, 2% profit tax was levied from those hotels and restaurants that their quarterly sales were less than 750,000 Afs, and if their quarterly sales were more than 750,000 Afs, 5% was set to tax. Based on the new order of the supreme leader of IEA, H H Amir-Almomineen (may Allah almighty protect him), 2% profit tax was imposed for both aforementioned amount on all hotels. Also, a fixed tax of 0.6% that has been charged per liter of oil and gas station was reduced to 0.3% according to the new order.

> **"The new order scraps 'profit tax' on hotels and restaurants to be reduced from 5% to 2% if quarterly sales were more than 750,000 Afs. Likewise, 'fixed tax' on oil and gas stations is decreased from 0.6% to 0.3%" - Mullah Abdul Qahir Haji Idris.**

# MoF Convenes 14 Ministries, IEA-run Bodies for Analysis, Assessment of 'Non-tax Revenues'

**Hafiz Maulawi Shah Hussain Hussaini, the General Director of Revenues of MoF has held a meeting with the representatives of 14 ministries and key IEA-run bodies regarding the analysis and assessment of 'non-tax revenues.'**




The process of "collecting non-tax revenues" of the aforementioned ministries and bodies was assessed in a comprehensive manner and the status of the revenues' target set in the non-tax revenue section for the said bodies has been reviewed in this session. Likewise, those ministries and bodies that have received higher revenues than the set revenues' target were appreciated, and the praised authorities have shared their useful experiences with the attendees of the meeting in turn. Noticeably, necessary recommendations were made for the ministries and IEA-run bodies in this meeting in order to prevent the likely deficit, and the best revenue opportunities were pointed out to them for reaching the set revenues' target disparately.




# د افغانستان مس عینک کان له پاره نوی څرک



د ډيپلوماټ – THE DEPLOMAT په نوم جاپانۍ رسنۍ د مس عینک کان په اړه مقاله خپره کړې ده، چې پکښې د دې لوی کان د لومړي پیل، بهیر، د کان د ذخیرې تخمین او بیا پیل په اړه منځپانگه ځای پر ځای سوې ده. مقاله په لومړي سر کې د کان د چارو و ځنډ ته اشاره کوي، چې وايي پس له (١٦) کلونو ځنډ وروسته اسلامي امارت او چین د نړۍ دوهم د مسو لوی کان چاري پیل او پټۍ ئې پرې کړه. وايي د افغانستان زېرمې سربسته پاته دي، چې له مسو او اوسپني څخه نیولې بیا تر لیتیم او نورو مهمو مینرالونو پوري د افغانستان د کانونو ارزښت (١ – ٣) ټریلیونه امریکایي ډالره کېږي. د مسو کان د اندازې په اړه ئې تخمین داسي کړی دئ: «د کابل سوېل ختیځ خوا ته نږدې په (٤٠) کېلومیترۍ لوگر ولایت کي د مس عینک اټکل کېږي، چې (٥,٥ – ١١,٥) میلیون میټریک ټنو پوري لومړۍ درجه والا مسي ډېري ولري.» د اندازې تر اټکل را دې خوا ته مقاله زیاتوي، چې افغان ولس او چین له ډېره وخته هیله درلوده، چې د دې کان له ظرفیت څخه گټه واخلي او تر دې را وروسته (٢٠٠٧ – ٢٠١٤ ز) پوري د کار ځنډ، پروسیس، تصفیې او نورو برخو ته اشاره کوي.

په دې متن کي دا ټکی هم راغلی دئ، چې وايي د اسلامي امارت د کانونو او پیټرولیم پخواني وزیر شهاب الدین دلاور صاحب د چینایي MCC شرکت سره پر بیا بشکېلتیا/گډون باندي ټینگار وکړ او حتی بناغلي وزیر صاحب پر لیکه یا انلاین دوې غونډې هم ور سره وکړې. مقاله زیاتوي، چې چین اوسنی وضعیت فرصت گڼي، وايي د نړیوالو سیالانو کمی دئ او د حکومت له خوا ئې ډېر ملاتړ کېږي. دا چې تر ځنډ وروسته د کان چاري بیا پیلیږي؛ نو د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیا ملا برادر اخوند هم د ضایع سوي وخت د جبران غوښتنه کړې ده، چې وايي کارونه دي ئې چټک سي، "د پروژې په عملي چارو کي وخت ضایع سوی دئ؛ نو پروژه دي په چټکتیا سره بیرته تازه ساه واخلي." مقالې په افغانستان کي د چین د سفیر ژاو شینگ خبري هم رانقل کړي دي، چې وايي د دواړو هیوادونو ترمنځ اقتصادي او سوداگریزي اړیکي ورځ تر بلي نږدې کېږي. یاد سفارت په یوه خبرپاڼه کي د دې موضوع په تړاو په داسي الفاظو سره یو څه ویلي دي: "چین غواړي له افغان لوري سره په گډه کار وکړي؛ تر څو د افغانستان د کاني زېرمو استخراج ته وده ورکړل سي."

## د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ٢٢١

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ٢٢١



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٢٣٣
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.